لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۰/۱۱/۱۸

# راشه رڼا مې شه ته!

زه چي روانه يمه فکر په سر نه لرمه
شنه ونه هسکه، بې له تا نه ثمر نه لرمه

نه مې حاصل شته، نه مې سيوري ته دمه وکړه چا
يوازې راغلم، تنها اوسم دلبر نه لرمه

گوره چې څه به راپېښېږي نن سبا، بلـه ورځ
نا پوه ړنده يمه، له هېڅ شي نه خبر نه لرمه

ورکه پسې گرځم، د لاربنود مې هم درک نه شته دی
توره تياره ده، څراغ نه شته بصر نه لرمه

راشه رڼا مې شه، لاربنود مې شه او جگه مې کړه
تر څو به ډوبه يم تورتم کې سحر نه لرمه

۲۰۲۰/۰۹/۲۷





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ